| شمېره | د دندې عنوان | د دندی عمومی معلومات | دندې مسؤلیتونه | د کاندید شرایط | تحصیلی سند | مهارتونه | کاری تجربه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | **سر آشپز**<br><br>**Head Chef** | موږ د یو سر آشپز په لټه کې یو چې د پخلنځي چاري مدیریت کړي. سر آشپز د مینو د جوړولو او د هغې په عملي کولو، د خوړو د کیفیت تضمین، د پخلنځي د کارکوونکو رهبري، او د یوه خوندي او پاک چاپیریال مسوولیت لري. | ۱-د رستورانت د اصولو سره سم یوه نوي او خلاقانه مینو جوړول<br><br>۲-د خوړو د لګښتونو څارل او د بودیجې د فیصدي له مخې د لګښتونو توازن ساتل<br><br>۳-د پخلنځي کارکوونکو ته د خوړو د چمتو کولو تخنیکونو زده کول او ورڅخه نظارت کول<br><br>۴-د خوړو د خوندیتوب او د حفظ الصحې مقرراتو څخه ډاډ تر لاسه کول<br><br>۵-د پخلنځي د توکو مدیریت کول او د اړتیا وړ توکو فرمایش کول<br><br>۶-د ځانګړو او تبلیغاتي پروګرامونو په اړه د رستورانت له مدیریت سره همکاري کول | • په یوه مصروف پخلنځي کې د سر آشپز په حیثٍ ثابته تجربه درلودل<br>• قوي رهبري او د ټیمي کار مهارتونه<br>• د پخلي له تخنیکونو سره پوره آشنایي درلودل<br>• په غوره ډول په فشار لرونکي چاپیریال کې د کار کولو وړتیا<br>• د یوه مسلکي ښوونځي یا نورو ورته برخو څخه د اشپزي په برخه کې د تصدیق پاڼې درلودل | لیسانس سند درلودل | ۱-په پخلي کې د تخصص، رهبري او د ټیم مدیریت کولو وړتیا<br>۲-د مېنو لپاره پلان جوړونه او هغې ته پراختیا ورکول<br>۳-د خوړو د خوندیتوب او حفظالصحې پوهه<br>۴-د اړیکو جوړولو قوي مهارتونه<br>۵-د وخت مدیریت<br>۶-د خوړو په چمتو کولو کې د خلاقیت او نوښت درلودل<br>۷-د فشار په وخت کې د کار کولو وړتیا<br>۸-د بودیجې جوړول او د لګښتونو د کنټرول مهارت درلودل<br>۹-د پیرودونکي خدمتو اړوند مهارتونه | د دندې کچه: منځنۍ کاري تجربه<br>د تجربې کلونه: لږ تر لږه ۵ څخه تر ۱۰ کلونو پوري تجربه درلودل |
| ۲ | **د شېدو لووشوونکی**<br><br>**MILKER** | د شېدو د راټولولو تجربه<br>د شېدو د لوشلو څخه وروسته د غواوو تیونه ضد عفوني<br>د غواوو د لوشلو څخه مخکې هغه غوایي چې چټلي وي د هغو وینځل او ډاډ ترلاسه کول<br>ډاډ ترلاسه کول چې د غواوو د لوشلو ساحه او وسایل پاک او منظم وي<br>د لوشلو د غوره او معیاري طریقې څخه ګټه اخیستل | د شېدو راټولونکي حیواناتو په غوره ډول د اداره کولو وړتیا<br>په فارم کې د حفظ الصحي او پاکوالي په اصولو پوهېدل<br>فزیکي وړتیا او په فارم کې د کار کولو زغم درلودل<br>جزیئاتو ته پام کول تر څو شېدې په سمه طریقه راټولي شي<br>د لارښودونو مطابق په خپلواک ډول د کار کولو وړتیا<br>د حیواناتو سره د ښه چلند لومړنی درک<br>د نورو فارمونو کارکوونکو سره د موثره کار د اړیکي ټینګولو مهارتونه | | | | |
| ۳ | **د برېښنايي وسایطو تخنیکي متخصص** | موږ د برېښنايي اتومات موټرونو ماهر متخصص ته اړتیا لرو چې زموږ ټیم سره یوځای شي. مناسب نوماند باید د برېښنايي او هایبریډ وسایطو د تشخیص، ترمیم او ساتنې په برخه کې ښه سابقه ولري. دا رول ډېر مهم دی، تر څو ډاډ ترلاسه شي | د برېښنايي او هایبریدي وسایطو د معیارونو سره سم تشخیص، ترمیم، جوړول او ساتنه یې کول<br><br>منظم خدمتونه ترسره کول، چې په هغې کې د بیټرۍ سیستم معاینه کول، په برېښنايي وسایلو | | د دیپلوم سند درلودل | لږ تر لږه باید په برېښنايي وسایطو کې ۳ کلنه تجربه او تخصص<br>په موټرو په انجنیئرۍ کې د دیپلوم یا اړوند برخه کې ددیپلوم درلودل | د دندې کچه: منځنۍ کاري تجربه<br>د تجربې کلونه: لږ تر لږه ۳ څخه تر ۸ کلونو پوري تجربه درلودل |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Automotive Technician (Electrical Vehicles) | چې برېښنايي وسايط په معياري ډول جوړ او ترميم شي | يې تشخيص کول، او د هغې د سافټوير اپډيټ کول<br>د لوړ ولټاژ سيستمونو، برېښنايي ډرايو سيستمونو او د موټر دننه د برېښنايي وسايطو اړوندوستونزو تشخيص کول<br>د چارج کولو سيستمونو، ، ترميم او د ريجينيريټيو سيستمونو معاينه ترسره کول<br>د لوړ ولټاژ پرزو د کارولو په مهال د خونديتوب د مقرراتو مراعتول<br>د تشخيص وسايل او سافټويرونو کارول تر څو د موټر سيستمونو وارزول شي او ستونزې معلومې شي<br>د ترميم نتايجو باندې بحث کول او مشتريانو سره د دغو وړانديزونو شريکول<br>د برېښنايي وسايطو په اړه وروستني پرمختګونه او ترميم باندې ځان پوهول | | | د برېښنايي وسايطو د سيستمونو، لکه د لوړ ولټاژ بطريو، برېښنايي موټرو او د په چارج کولو کې د پوهې درلودل<br>د برېښنايي وسايطو د ستونزو په تشخيص کې د سافټويرونو په کارولو پوهيدل<br>د تخنيکي لارښودونو او وايرينګ دياګرامونو د لوستلو او تفسيرولو کې د وړتيا درلودل | |
| ۴ | د برق انجنير<br>Electrical Engineer | موږ د يو تجربه کار د برق انجنير په لټه کې يو چې زموږ ټيم سره يو ځای شي. دغه نوماند به د برېښنايي سيستمونو او د هغوی د اجزاوو د ډيزاين، پراختيا او د ټيسټ کولو مسووليت په غاړه لري، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې دغه معيارونه پوره کولی شي. | - د پروژې د اړتيا په اساس د برېښنايي سيستمونو او اجزاوو ډيزاين کول<br>- برېښنايي سکيماټيکونو پراخول، د دياګرامونو او نقشو جوړول<br>- د برېښنايي سيستمونو ارزونه او ټيسټ کول يې چې تر څو د خونديتوب او کيفيت معيارونه پوره کړي<br>- د نورو انجنيرانو او ټيم غړو سره همکاري کول چې تر څو ډاډ ترلاسه شي چې پروژه په خپل وخت بشپړه شي.<br>- د پروژې د اجرا کولو په وخت تخنيکي ملاتړ او لارښووني وړاندې کول<br>- د برق انجنيرۍ په اړه ځان اپډيټ ساتل او پلټنه يې کول تر څو پخپله برخه کې ستونزو سره مخ نه شي. | - د برق د انجنيری په برخه کې د ليسانس په کچه زده کړې<br>- د برېښنايي سيستمونو په ډيزاين او ټيسټ کولو کې د تجربې درلودل<br>- د برېښنايي ډيزاين اړوند سافټويرونو او نورو وسايلو کې د مهارت درلودل<br>- د ستونزو د حل او قوي تحليل کولو مهارتونه<br>- ټيمي کاري وړتيا او اړيکه جوړونه کې مهارتونه<br>- د فشار په وخت کې د کار کولو وتيا او په وخت د دندې ترسره کول | دليسانس سند درلودل | ۱-د اصولو او مفاهيمو او د برق د انجنيری په برخه کې قوي پوهه درلودل<br>۲-د AutoCad او MATLAB او ورته د ډيزاين نورو سافټويرونو کې د مهارت درلودل<br>۳-د پيچلو برېښنايي د حل او تحليل وړتيا<br>۴-برېښنايي معيارونو او کوډونو سره يې آشنايي درلودل<br>۵-د برېښنايي وسايلو او تجهيزاتو د ټيسټ کولو کې د تجربې درلودل<br>۶-کار په دقيقه توګه ترسره کول او د هغې جزيئاتو ته پوره پام کول<br>۷-اړيکې جوړول او د ټيمي کار وړتيا | د دندې کچه: منځنی کاري تجربه<br>د تجربې کلونه: لږ تر لږه ۷ څخه تر ۱۰ کلونو پورې تجربه درلودل |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | ۸-د پروژې د مدیریت په برخه کې مهارتونه چې څو کارونه په یو وخت کې په خپل وخت اجرا کړي<br>۹-د برق انجنیرۍ او نوي تکنالوژیکي په برخه کې ځان عیارولو وړتیا<br>۱۰د بریښنایي سیستمونو د ستونزو د تشخیص او د هغو لپاره د حل پیداکولو مهارتونه | |
| ۵ | **د هوټل د تفریح لارښوونکی**<br><br>**Hotel Recreation Instructor** | موږ د یوه داسې تفریح لارښوونکی په لټه کې یو چې میلمنو لپاره د تفریح او ساعت تیرۍ فعالیتونه په ډیره شوق سره تنظیم او رهبري کړي. دا آرماني کاندید به میلمنو ته داسې فضا جوړوي چې هغوی له متنوع فراغت او سلامتی فعالیتونو څخه په هوټل کې خوند واخلي. | - د هر عمر او علاقې میلمنو ته د تفریح او سرګرمی مختلفې برنامې او فعالیتونه ترتیب او تنظیم او تطبیق کړي؛<br>- سلامتی، ورزش او نور تفریحي پروګروامونه رهبري کړي؛<br>- په تفریحي برنامو د ټولو ګډون کوونکو میلمنو روغتیا او خوندیتوب څخه ځان ډاډمن کړي؛<br>- د تفریحي برنامو لپاره کاریدونکو ټولو وسایلو او تسهیلاتو څخه مراقبت او ساتنه وکړي؛<br>- خپلې تفریحي برنامې داسې تنظیم او تبلیغ کړي؛ چې په راتلونکي کې د میلمنو ګډون په برنامو کې زیات او پراخ شي؛<br>- خپلو مشتریانو ته تر ټولو غوره خدمات وړاندې کړي؛ ترڅو میملنو ته غوره تجربه شي. | د تفریحي فعالیتونو په تنظیم او رهبرۍ کې له وړاندې تجربه ولري؛<br><br>د تفاهم او ډیالوګ او محاروې غوره مهارت ولري؛<br><br>په انفرادي او ګروپي شکل د کار وړتیا ولري؛<br><br>له شوق او ذوق او همدارنګه په پوره انرژۍ سره کار وکړي؛<br><br>د CPR او لومړنیو طبي کمکونو د تعلیم تصدیق پاڼه ولري؛<br>په بیلابیلو او متنوع تفریحي او سرګرمي په فعالیتونو او ورزش کې پوهه ولري. | | 1. د هوټل له میلمنو او ګروپي همکارانو سره د تفاهم او دیالوګ ښه مهارت ولري؛<br>2. په بیلابیلو تفریحي برنامو او فعالیتونو او همدارنګه د ګمیونو او جذابه ناستو په تنظیم او رهبرۍ کې پراخه پوهه ولري؛<br>3. مشتریانو د خدماتو رسولو غوره مهارت ولري؛ ترڅو ځان مطمئن کړي؛ چې میلمانه غوره او مثبته تجربه له ځان سره یوسي؛<br>4. داسې تفریحي برنامې تنظیم کړي؛ چې د مختلف عمر لرونکو کسانو او مختلفو علاقو خلکو لپاره د جذابیت وړ وي.<br>5. داسې سازماني مهارتونه ولري چې تفریحي برنامې په نرم ډول پلان کړي؛ | موقعیت: قطر هېواد دوحې ښار<br><br>شرکت: خصوصي<br><br>دندې موخه: میلمانه او توریزم |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | 6. د خپل تفریحي برنامو د ګروپ د نظارت او رهبرۍ مهارت ولري؛<br>7. په تفریحي برنامو کې زخمي کیدونکو میلمنو د د CPR او لومړنیو طبي کمکونو د تعلیم تصدیق پاڼه ولري. | |
| ۶ | د خوړو او نوشابو بس چلوونکی<br>**F&B Bus Runner** | موږ د داسي یو پابند او اعیزمن د خوړو او نوشابو بس چلوونکی په لټه کې یو؛ چې د خوړو او نوشابو په صنعت کې د مشتریانو لپاره د غوره خدماتو د په وړاندي کولو کې مرسته وکړي. د خوړو او نوشابو بس چلوونکی مسئولیت لري چې میزونه پاک کړي، د نوشابو لوښې بېرته ډک کړي او میلمنو لپاره د خوراک په وخت کې د نرمو خدماتو په وړاندي کولو کې د کارسونانو ملاتړ وکړي. | 6. د راتلونکو میلمنو لپاره په خپل وخت د میزونو پاکول او تنظیمول؛<br>7. د نوشابو د لوښو بېرته ډکول او له ګارسون سره د ضرورت په وخت کې مرسته کول؛<br>8. له آشپزخوني او ګارسون سره په اغیزناکه توګه خبري اترې کول؛ ترڅو په خدماتو کې له نواقصو مخنیوی وشي؛<br>9. د خوړځیو په پاکۍ او نظم ساتنه کې مرسته کول؛<br>10. د میلمنو او مشتریانو هر ډول ستونزې او غوښتني ته په غوره توګه رسیدنه کول او هڅوی ته غوره خدمات وړاندي کول. | 1. د خوړو او نوشابو په صنعت کې پخوانی او مشابه تجربې ته لومړیتوب ورکول کیږي؛<br>2. په تیز کار او له فشاره ډک محیط د کار وړتیا ولري؛<br>3. د ګروپي کار او محاوري غوره مهارت ولري؛<br>4. کوچنیو کارونو او پاکوالی ته د پاملرنې مهارت ولري؛<br>5. په ماښامونو، د اونۍ په پای او رخصتیو کې د کار انعطاف ولري. | | غوره محاروي مهارتونه ولري؛<br><br>مشتریانو د خدماتو غښتلي انګیزه ولري؛<br><br>د تیز کار په محیط کې د کار وړتیا ولري؛<br><br>کوچنیو کارونو او پاکوالی ته د پاملرنې مهارت ولري؛<br><br>له خپل وخت څخه د زیات کار انګیزه او فزیکي وړتیا او انرژۍ ولري؛<br><br>د ګروپي کار او همکارۍ مهارتونه ولري؛ | موقعیت: قطر هېواد دوحې ښار<br><br>شرکت: خصوصي<br><br>دندې موخه: میلمانه او توریزم<br><br>استخدام: ټوله کاري ورځ<br><br>معاش: له ۱۰۰۰ ډالرو څخه تر ۱۵۰۰ ډالرو پورې |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | د چکونو او پیسو اخیستلو کې د دقت لپاره د ریاضی غوره مهارتونه ولري؛<br>د نوشابو او خوراکونو د مصرف دقیق حساب له ځانه سره ولري؛<br>په دقیقه او اعیزمنه توګه د لاربنونو د تعقیب وړتیا ولري. | |
| ۷ | **د آشپز لومړی مرستیال یا (Commis 1)** | د آشپز لومړی مرستیال دنده دا دی؛ چې له مشر آشپز سره به د مسلکي خوړو په تیارولو او مسلکي آشپزخونې په تنظیم کې کمک کوي، او همدارنګه له مشر آشپز او د آشپزخونې له کارکوونکو سره مرسته کوي؛ چې آشپزخونه منظیم فعالیت وکړي. | • د چمتو شوي مینیو او ریسیپی سره سم د مختلفو خوړو په تنظیم او پخولو کې مرسته کول؛<br>• د خوراکونو په پخولو کې؛ تر ټولو غوره کیفیت او حفظالصحې ته پاملرنه کول؛<br>• د پاک او منظم کاري چاپیریال رامنځته کول؛<br>• د آشپزخونې د لوړپوړو کارکوونکو د لاربنوونو او هدایاتو تعیقبول؛<br>• په خپل وخت او اغیزمنه توګه د خوراکونو په ترتیب او پخولو کې د خپل ګروپ له غړو سره همکاري کول. | 1. په آشپزخونه کې ثابت شوې کاري تجربه ولري؛<br>2. د غذا د خوندیتوب او حفظالصحې د ساتنې پوهه ولري؛<br>3. په تیز کاري چاپیریال کې د کار وړتیا ولري؛<br>4. جزییاتو د توجه غوره وړتیا ولري؛<br>د کاري ګروپ رهبري وکړي او غوره محاروي وړتیا ولري. | | د غذا پخولو او تیارولو کې اساسي تخنیکونو باندې پوهه ولري؛<br>کاري ګروپ کې د کار مهارت ولري؛<br>جزییاتو د توجه غوره وړتیا ولري؛<br>د آشپزخونې د مصئونیت او حفظالصحې د رعایت لاربنوونې یې زده وي؛<br>په دقیقه توګه ریسیپی تعقیب کړي؛<br>فزیکي استقامت او پایداري ولري؛<br>لوړ پوړو کارکوونکو څخه د زدهکړې او د هدایاتو د اخیستلو رغبت ولري؛<br>د وخت مدیریت مهارت ولري او په تیز کاري محیط کې د کار مهارت ولري. | موقعیت: قطر هېواد دوحي ښار<br>شرکت: خصوصي<br>دندي موخه: میلمانه او توریزم<br>د منځني حد کاندید ته اولویت ورکول کیږي.<br>تجربه: دوه کاله |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | **د پاک کارۍ د میز همغږۍ کوونکی**<br><br>**Housekeeping Desk Coordinator** | د پاک کارۍ د میز همغږۍ کوونکی د مهالویشونو او د وسایلو مدیریت کوونکی دی. د پاک کارۍ د ټولو برخو د څارنې مسوول هم دی او باید ډاډ تر لاسه کړي چې ټولې برخې په لوړ کچه پاکې او منظمې وي. | د پاک کارۍ کارکوونکو مهالویشونو تنظیمول او همغږي کول ، چې کار په ښه ډول تر سره شي.<br>د پاک کارۍ وسایلو او توکو مدیریت کول او د اړتیا په وخت کې د نورو وسایلو فرمایش چمتو کول<br>ټولې ساحو لکه میلمنو خونه، عامه ځایونه، او د کارکوونکو شاتنۍ برخو د پاکوالیاو منظموالي برسي کول.<br>په مسلکي او مناسب وخت د میلمنو غوښتنې او شکایتونه چې د پاک کارۍ په اړه وي ورته رسېدنه کول<br>د پاک کارۍ کارکوونکو ته د غوره کړنلارو او د شرکت د تګلارو په اړه روزنه ورکول<br>د پاک کارۍ اړوند عملیاتو راپورونه ساتل<br>- | په پاک کارۍ کې د ثابته شوي تجربې درلودل، حداقل لږ تجربه د نظارت او همغږۍ په برخه کې هم ولري.<br>د وخت د مدیریت او عالي سازماني مهارتونو درلودل.<br>جزیئاتو ته پوره پام کول او پاکوالي او صفایي باندې پوره تمرکز کول<br>د اخبرو اترو او داخلي همکارانو سره د ښه اړیکو درلودلو مهارتونه<br>د فشار په وخت کې د کار کولو وړتیا او د څو کارونو په یو ځای ترسره کول<br>د پاک کارۍ اړوند د روغتیا او خوندیتوب د مقرراتو او کړنلارو په باره کې پوهه | | د خبرو اترو غوره مهارتونه<br>سازماني مهارتونه<br>جزیئاتو ته پام کول<br>د وخت مدیریت<br>د څو کارونو د اجرا کولو وړتیا<br>د ستونزو د حل مهارتونه<br>د پېرېدونکو د خدمتونو لپاره لیوالتیا<br>د پاک کارۍ د اصولو پوهه<br>د کمپیوټر مهارتونه ( د آفس پروګرامونه او د دارایانو د مدیریت سیسټم) | کاري تجربه لږ تر لږه ۲ کاله |
| ۹ | **د آشپزخونې د یوې برخې مسؤل**<br><br>**Chef De Partie** | د Chef De Partie چې د پخلنځي په یوه برخه کې شتون او مسوولیت په غاړه لري او د پخلنځي یوه ځانګړي څانګه نظارت او د اشپزانو یوه ډله مدیریت کوي، او ډاډ حاصلوي چې ټول خواړه په خپل وخت وړاندې شي. | په خپله څانګه کې دننه د خوراکي توکو چمتو کول، وړاندې کول او نظارت کول<br><br>نظارت او پخپله څانګه کې د نویو اشپزانو روزنه چې ځان ډاډه کړي نوي آشپزان د ده لارښود تعقیبوي<br><br>ډاډ تر لاسه کول چې په ټولو وختونو کې د حفظ الصحې او خوندیتوب رعایت کیږي<br><br>د مشر اشپز سره د نوي مینو او ځانګړو خواړو په جوړولو کې همکاري کول<br><br>د خوړو د ذخیرو څارل او د اړتیا په وخت کې د اړوند برخې لپاره د توکو لپاره د فرمایش ورکول<br><br>د کار ساحه پاکه او منظمه ساتل | د Chef de Partie سره یې کار کړی وي په عصري هوټلونو او ریسټوورانټونو کې<br><br>د خوړو په پخولو کې ژوره، تخنیکي او عملي پوهه<br><br>د وخت په مدیریت اوسازماني مهارتونو درلودل<br><br>په چټک او فشار لرونکي چاپیریال کې د کار وړتیا<br><br>قوي رهبري او د اړیکو جوړولو مهارتونه<br><br>د اشپزي له ښوونځي څخه د تصدیق پاڼې درلودل او نورو روزنیزو پروګرامونو څخه د تصدیق پاڼې لرل یو امتیاز دی | | د پخلي متخصص او د مختلف النوع غذاګاني په چمتو کولو کې پوهه<br><br>د خوړو د د خوندیتوب او حفظ الصحې اصولو پوره پوهه<br><br>د آشپزانو د یوه ټیم مشري او همغږي کول<br><br>د وخت تنظیم او<br><br>ښه تنظیمي<br><br>وړتیاوې د څو<br><br>کارونو د هممهاله<br><br>ترسره کولو لپاره<br><br>د مېنو لپاره پلان جوړونه او د نویو خوړو د ترکیبونو پراختیا | **لږ تر لږه ۲ کالونه**<br><br>**کاري تجربه** |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | د پخلنځي د همکارانو سره د ښو اړيکو جوړولو همغږي مهارتونه<br>د کاري فشار په وخت کي د ښه کار کولو وړتيا<br>د خوړو په وړاندې کولو کې د خلاقيت درلودل او پام کول<br>د پخلنځي د وسايلو سره آشنايي او د تخنيکي ستونزو د حلولو وړتيا<br>د شرايطو سره د ځان برابرولو او انعطاف وړتيا | |
| ۱۰ | د آشپز دوهيم مرستيال يا (COMMIS 2) | د آشپز مرستيال (Commis 2) د پخلنځي د ټيم غړی دی چې د خوړو د چمتو کولو په برخه کې د مشر آشپز سره مرسته کوي، او ډاډ ترلاسه کوي چې خواړه په لوړ کيفيت او پر خپل وخت چمتو شي. | د خوړو د پخولو لپاره د اجزاوو په چمتو کولو کې مرسته کول<br>د ټاکل شويو معيارونو سره سم پخلي کول<br>د پخلنځي پاکوالی او منظم ساتل<br>د خوړو د خونديتوب کړنلارو او لارښودونو تعقيبول | دCommis آشپز مرستيال يا ورته وظيفه کې مخکني تجربه<br>د پخلنځي د وسايلو او لوازمو پېژندل<br>د خوړو د خونديتوب اصولو درک<br>په چټک او فشار لرونکي چاپېريال کې د کار کولو وړتيا<br>جزيئاتو ته پاملرنه<br>د ټيم سره د ښه کار کولو او خبرو اترو مهارتونه | | د خوارو چمتو کول<br>د پخلي تخنيکونه<br>د پخلي د وسايلو پيژندنه<br>دخوارو د خونديتوب په اصولو پوهيدل<br>د خوارو کړنلارو تعقيبولو وړتيا<br>د وخت مديريت<br>جزيئاتو ته پوره پام | **۲ کاله کاري تجربه** |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د مشر آشپز سره په ورځنیو کارو کې مرسته کول<br><br>د اړتیا په صورت کې د خوړو توکي څارل او هغوی بیا ډکول | | | د ټیم سره همکاري کولو وړتیا<br><br>د شرایطو سره ځان چمتو کول<br><br>د څو کارونو په یوه وخت کې ترسره کول | |
| ۱۱ | **د ریزرف کولو استازی**<br><br>**Hotel Reservati-ons Agent** | موږ د هوټل لپاره د یوه منظم ریزرف کولو استازي ته اړتیا لرو، چې له میلمنوسره د استوګني د خوني په ریزرف کې مرسته وکړي او پیریدونکو ته د پاتي کېدو غوره خدمتونه وړاندي چې له پاتي کېدو خوښ واوسي. | د ریزرف کولو پوښتنو ته د ټیلیفون، ایمیل، او یا په حضوري توګه ځواب ووايي<br><br>د میلمنو سره د خوني په ریزرف کولو کې او یا د ریزرفشنونو د بدلون او د هوټل د آسانتیاوو په اړه د مالوماتو شریکول<br><br>له نورو هوټلونو سره همغږي، چې د میلمنو غوښتنو ته په وخت رسیدنه وشي<br><br>د میلمنو او د ریزرفشنونو د مالوماتو دقیق ثبت او له ځان سره یي ساتل<br><br>د میلمنو ستونزو او شکایتونو ته په مسلکي ډول د حل پیدا کول | په هوټل او یا په مهمانداری کې د پیریدونکو د خدمتونو په برخه کې مخکنی تجربه<br><br>د خبرو اترو قوي مهارتونه<br><br>جزیئاتو تهپوره پام کول او ښه تنظیمي مهارتونه<br><br>د چټک چاپیریال او فشار په وخت کې د کار کولو وړتیا<br><br>د هوټلونو د ریزرفشن سیستمونو په برخه کې پوهه او په نورو کړنلارو پوهیدل یو امتیاز ګڼل کیږي | | د خبرو اترو غوره مهارتونه<br><br>د پیریدونکو خدمتونو سره علاقه درلودل<br><br>قوي سازماني مهارتونه<br><br>په یوه وخت د څو کارونو ترسره کول<br><br>د ریزرفشن سیستمونو او د بوک کولو له پلاټفورمونو سره بلدتیا<br><br>جزیئاتو ته پام کول<br><br>د ستونزو د حل مهارتونه<br><br>د فشار په وخت کې کار کول<br><br>د مهمانداری د صنعت له کړنلارو او اصطلاحاتو سره بلدتیا | **لږ تر لږه ۲ کاله کاري تجربه** |
| ۱۲ | **د خونو د پاک ساتلو خدمتګار** | موږ د خونو د پاکولو لپاره یو خدمتګار ته اړتیا لرو، چې زموږ ټیم سره یو ځاي شي، چې د میلمنو لپاره یو ارام ، خوښ او پاک چاپیریال چمتو کړي. دغه غوره نوماند باید جزیئاتو ته پام وکړي، منظم وي او په ښه ډول کار ترسره کړي او | د معیارونو مطابق د میلمنو خوني او عامه ځایونه پاک وساتل شي<br><br>د بسترو پاکول، د بسترو جوړول او د روی پاکونو او د کاغذونو ځای پر ځای کول | په پاک کاری کې پخوانی تجربه یا په اړونده برخو کې<br><br>د پاکوالي د موادو او طریقو پیژندنه | | جزیئاتو ته پوره پاملرنه<br><br>د وخت مدیریت<br><br>فزیکي توانایي | لږ تر لږه ۲ کاله کاري تجربه |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Housekee-ping Room Attendant | ځان ډاډه کړي چې ټولې خونې په ښه ډول پاکې دي. | د کوټو جارو کول، د خاورو لرې کول د ځمکې او د کوټې سطحې پاکې کول<br>د تخنیکي ستونزو او نورو خرابیو راپور ورکول<br>د کالیو مینځلو په برخه کې همکاري کول<br>د میلمنو سره ښه برخورد کول او د هغوی پوښتنو یا اندېښنو ته پر وخت ځواب ورکول | جزیئاتو ته پاملرنه کول او د چټک کار کولو وړتیا<br>قوي تنظیمي مهارتونه<br>د خبرو اترو او پیریدونکو خدمتونو مهارتونه<br>په خپلواکه توګه د کار کولو او ټیمی کار کولو وړتیا<br>د درنو وسایلو د پورته کولو او د هغې د انتقال فزیکي وړتیا | | پیاوړي د خبرو اترو مهارتونه<br>په خپلواکه توګه او ټیمي ډول د کار توانایي<br>د پاکوالي د تخنیکونو پوهه<br>د پیریدونوکو د خدمتونو مهارتونو کې پوهه<br>تنظیم او منظم کار کولو وړتیا | |
| ۱۳ | خدمتګار<br>Waitress | موږ یوې ماهر خدمتګار ته اړتیا لرو چې د مشتریانو فرمایشونه واخلي او هغوی ته خواړه او څښاک ورسوي. | مشتریانو ته ښه راغلاست ووایئ او هغوی خپلو مېزونو ته ورسوئ.<br>مینو وړاندې کړئ او که پوښتنه وشي، د خوړو د اندازې، توکو یا حساسیتونو په اړه مفصل معلومات ورکړئ.<br>د خوړو او څښاک دقیق فرمایشونه ثبت کړئ.<br>فرمایشونه پر وخت د مېزونو ته ورسوي.<br>له مشتریانو وپوښتئ چې آیا له خپلو خوړو راضي دي، او که ستونزه وي، ژر اقدام وکړئ.<br>بلونه جوړ کړئ او پیسې ترلاسه کړئ.<br>د نورو خدمتګارانو او د پخلنځي/بار له کارکوونکو سره همکاري وکړئ. | مشتریانو ته ښه راغلاست ووایئ او هغوی خپلو مېزونو ته ورسوئ.<br>مینو وړاندې کړئ او که پوښتنه وشي، د خوړو د اندازې، مواد و یا ممکنه حساسیتونو په اړه تفصیلي معلومات ورکړئ.<br>د خوړو او څښاک دقیق فرمایشونه ثبت کړئ.<br>فرمایشونه پر وخت د مېزونو ته ورسوي.<br>له مشتریانو سره وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې له خوړو خوند اخلي، او که ستونزه وي، سمدستي اقدام وکړئ.<br>بلونه جوړ کړئ او پیسې ترلاسه کړئ. | | د خدمتګارۍ په توګه د کار ثابت تجربه ولري.<br>د نغدو پیسو د ثبت ماشین (Cash Register)او د فرمایش ثبتولو سیسټم )لکه (POS سره عملي تجربه ولري.<br>د ابتدايي ریاضی مهارتونه ولري.<br>د مشتریانو لپاره توجه او صبر ولري.<br>غوره وړاندې کولو (پریزنټېشن) مهارتونه ولري.<br>قوي تنظیمي او د څو کارونو په یو وخت کې د ترسره کولو وړتیا ولري. | لږ تر لږه ۲ کاله کاري تجربه |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | له نورو خدمتګارانو او د پخلنځي یا بار له کارکوونکو سره همکاري وکړئ. | | | | |